# Inquiry Update Video November 2025 (Pashto Translation)

**د څېړنې د پلاوي نوې خبرتیا ــ د نومبر ۲۰۲۵**

د تېرو شپږو میاشتو راهیسې، د څېړنې پلاوي ونه شوای کولای چې شواهد او نور مواد په خپله وېبپاڼه خپاره کړي. دا ځکه چې د دفاع وزارت غوښتنه کړې وه چې د ټولو هغو شواهدو او موادو خپرول بند شي، تر هغه چې د د نیونې د عملیاتو د شاهدانو ټولې ویناوې په ۲۰۲۶ کال کې بشپړې نه شي.

طبعاً زه د دوی دا اندېښنه شریکوم چې هېڅ داسې څه باید خپاره نه شي چې زما د هویت پټ ساتنې د امر خلاف وي، خو زه دا هم خپل مسؤلیت ګڼم چې عام ولس د دې څېړنې د کار په اړه خبر وساتم.

ما د ټولو اړخونو لیکلي نظرونه او وړاندې شوي مواد په ډېر دقت سره وکتل.

ما اوس پرېکړه وکړه او ما د دفاع وزارت غوښتنه رد کړه، ځکه زه پوره ډاډمن یم چې هغه اندېښنې چې وزارت څرګندې کړې وې، مخکې له مخې د څېړنې د پلاوي او د دفاع وزارت د ټیمونو له خوا د لنډیز او سانسور په بهیر کې په سمه توګه په پام کې نیول کېږی.

ما امر کړی چې د څېړنې د اسنادو، شواهدو او لنډیز شویو راپورونو خپرول دې ژر تر ژره بېرته پیل شي.

زه تاسو ته ډاډ درکوم چې دا څېړنه ډېره فعاله پاتې شوې او د پام وړ پرمختګ یې کړی دی.

نور جزئیات د تازه راپور په بڼه زموږ په وېبپاڼه کې شته.

زه به یو ځلې بیا تاسو ته دا یادونه وکړم چې دا څېړنه د څه لپاره ده او د څه لپاره نه ده.

هغه تورونه چې د دفاع وزیر د څېړنې لپاره راکړي دي ــ او زه بیا ټینګار کوم، دا تر اوسه یوازې تورونه دي ــ هغه دا دي چې:
ایا داسې باوري معلومات شته چې د برتانیې ځانګړو ځواکونو د ۲۰۱۰ د کال له منځ څخه تر د ۲۰۱۳ د کال تر منځ، د نیونې د عملیاتو پر مهال، افغاني نارینه عمداً وژلي وي، او دا چې که دا کړنې پټې ساتل شوې وې؟

دا څېړنه د جګړې د ګډوډۍ او پېچلتیاوو په اړه نه ده. او نه هم د جګړې شیبو د پرېکړو په اړه.
زه غواړم درې مهم ټکي واضح کړم، ځکه چې په وروستیو میاشتو کې د رسنیو او نورو خبرو اترو له لارې ځینې مسئلې یا له پامه غورځول شوې دي، یا ناسم تعبیر شوې دي:

لومړی: دا تورونه په اصل کې د برتانیې د ځانګړو ځواکونو خپلو سرتېرو له خوا راپور شوي وو، او له خپلو نورو ملګرو سره یې شریک کړي وو.
همدا خبره یوه مهمه وجه وه چې دا عامه څېړنه پیل شوه، تر څو ټولې ادعاوې په پوره ډول وڅېړل شي.
د ځانګړو ځواکونو د شکایتونو شواهد له اصلي ګډونوالو سره شریک شوي دي.

د څېړنې پلاوی به دا شواهد خپروي، کله چې د څېړنې او دفاع وزارت ګډ ټیم دا ډاډ ترلاسه کړي چې هغه نسخې په سمه توګه سانسور شوې او د خلکو هویت او ملي امنیت خونديپاتې شي.

دویم: دا څېړنه یوازې دا معلوموي چې ایا د بې محاکمې وژنو یا غیر قانوني وژنو په اړه باوري معلومات شته او که نه.
د قانون له مخې، یوه عامه قانوني څېړنه نشي کولای د جزايي یا مدني مسوولیت پرېکړه وکړي.

نو دا څېړنه جزايي تحقیق نه دی؛ دا یوازې د موجودو شواهدو ارزونه ده، ترڅو حقیقت روښانه شي.
د څېړنې د واکونو له مخې، دا امکان شته چې که اړتیا وي، موضوعات نورو ادارو ته د لا زیاتې څېړنې لپاره واستول شي.

زه په څرګنده ډول وایم، چې تر هغه مهاله به هیڅ ډول پایله نه وړاندې کوم، تر څو پورې چې ټول شواهد ونه ګورم او د ټولو اړخونو خبرې وانه ورم.

دریم: زه ټینګار کوم – لکه څنګه چې د پوځ لوړپوړو مشرانو هم ویلي – دا څېړنه باید په پوره دقت او صداقت ترسره شي، څو دا څرګنده شي چې آیا په دې تورونو کې رښتیا شته او که نه.

د دې تورونو نامعلوم پاتې کېدل نه د برتانیې عامه ګټو ته ګټه رسوي، نه د هغو افغاني کورنیوته چې د دغو پېښو قربانیان دي.
برعکس، دا د برتانیې د ځانګړو ځواکونو پر باور او د هغوی پر مهم کار سیوری اچوي یا منفي اخیزه کوي.

زه دا هم منم چې دا څېړنه به د هغو کسانو لپاره چې موږ ترې شواهد غواړو، ستونزمنه او د فشار وړ تجربه وي.
خو د څېړنې دقیق او محتاط بهیر د کومې ځانګړې پایلې لپاره نه، بلکې د حقیقت موندلو لپاره ترسره کېږي، څو نورې اوازې، شکونه او ناسمې کیسې بیا د کلونو وروسته راونه پورته شي.

تر اوسه هم دا ډېره مهمه ده چې که هر څوک کوم شواهد یا معلومات لري چې زما سره مرسته کولی شي، باید مخکې راشي.

تاسو کولای شی دا کار مستقیماً او په محرم ډول د څېړنې له دفتر سره، او یا د دفاع وزارت سره اړیکه نیولو له لارې ترسره کړئ.
د خوندي تماس تفصیلات زموږ په ویبپاڼه کې موندل کېږي.

مننه.